پوهندوی آصف بهاند

# لومړی یې وژني، بیا جایزې ورکوي

مارچ اتمه

د ښځو نړیواله ورځ

«هم مې ووژنـي پـه خـپلـه، هـم پـر ما بانـدې ژړا کا
څه ښه یار دي، ښه یې مینه، وژل هسې شیؤن هسې»

(خوشحال ختک)



افغان مېرمنې د زېږېدو له ورځې، بیا د مړینې ترساعته پورې له رنګارنګ ستونزو او کړاوونو سره مخ کېږي. اول خو یې ښونځې ته نه پرېږدي که احیاناً د تعلیم زمینه ورته برابره شوه، بیا د کار پیدا پیدا کولو ستونزه ـ بیا د کار په چاپېریال کې د نارینوو له خوا نور مزاحمتونه او کړاوونه رامنځته کېږي ـ بیا که کومې ښځې وکولای شول چې د کړاوونو له دې تولو پاټکونو څخه تېره شي؛ بیا یو بل غازي؟ پیدا کېږي فتوی صادروي چې د ښځې له کوره وتل او کار کول حرام دي، ډز وژني یې، یو څو ورځې راپورونه او افسوسونه او بیا خبره خلاصه شي څوک یې پوښتنه هم نه کوي.

د همدې تر بحث لاندې افغان مېرمنو د وژل کېدو په تړاو باید وویل شي چې: دا ښځې د امریکایانو د سیاسي پالیسیو قرباني شوې او وژل شوې دي. امریکایان یې هم وژني او هم جایزې ورکوي هغه هم مړو شو اشخاصو ته. همدا مسلح قاتلین چې دا ښځې یې وژلي دي، همدې امریکا له عسکري بوټو سره د خلکو پر سینو او خېټو باندې سپاره کړل، هغوی هم په رنګارنګ نومونو وژني کوي، قاتلین په هسکه غاړه ګرځي، او امریکا مقتولینو ته جایزې ویشي. ښایي دا د دې له پاره وي چې د امریکا د لومړی مېرمنې لومړنې فعالیتونه غوږ وښودل شي.

دا جایزې هغو افغان مېرمنو ته ورکول کېږي چې د ۲۰۲۰ ام کال په اوږدو کې د مخالفینو له لوري وژل شوې دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په یوه بیان کې ویلي دي چې سږنۍ جایزې دغو افغان وژل شوو مېرمنو ته ورکول کېږي:

ــ فاطمه خلیل د بشري حقونو د کمیسیون کارکونکې،

ــ جنرال شرمیلا فروغ د ملي امنیت کارکونکې،

ــ مریم نورزاد، نرس قابله،

ــ فاطمه رجبی د پولیسو په لیکو کې افسره،

ــ فرشته د پولیسو په لیکو کې افسره،

ــ ملاه میوند د ښځو د حقونو فعاله او په انعکاس تلویزیون کې ویانده،

ــ فرشته کوهستانی د ښځو د حقونو فعاله.

د دې ښځو د هڅو او د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د پالیسیو په باب په هماغه وخت کې افغان میډیا راپورون خپاره کړل. د جایزو د ورکولو د پالیسی په باب په یوه رپوټ کې داسې راغلي دي:

«امریکا ۷ وژل شویو افغان مېرمنو ته جایزې ورکوي



تاند (جمه د حوت ۱۵) د امریکا متحده ایالتونو لومړۍ مېرمن جل بایډن د مارچ د اتمې په مناسبت چې د ښځو د نړیوالې ورځې سره برابره ده، ۷ وژل شویو افغان مېرمنو ته د زړورتوب کلنۍ جایزه ورکوي.
په کابل کې د متحده ایالتونو سفارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، دغه جایزې د دې لپاره د دغو مېرمنو په نوم کیږي چې د خپل ژوند لویه برخه یې افغانانو ته د هوسا ژوند برابرولو کې زیار باسلی دی...

د امریکا حکومت په داسې حال کې وژل شویو افغان میرمنو ته د زړورتوب جایزې ورکوي چې اوس هم د نارینه وو تر څنګ ښځینه فعالانې، خبریالانې، ډاکترانې د هدفي وژنو ښکار کېږي.

په روانه اونۍ کې د ننګرهار په مرکز جلال اباد ښار کې د انعکاس په نوم د یوه خصوصي ټلوېزیون درې کارکوونکې هغه مهال چې له دندې کورته په لاره وې د وسله والو په برید کې ووژل شوې.

له دې پېښې وروسته په همدې اونۍ کې یوه ډاکتره د چسپکي ماین په چاودنه کې ووژل شوه.
که څه هم طالبانو په دې برید کې لاس لرل رد کړي او مسؤلیت یې داعش ډلې منلی، خو حکومت یې د طالبانو کار بولي.

د یادوني وړ ده چې د ۲۰۲۱ کال د زړورو مېرمنو جایزه د نړۍ په کچه د یو شمېر نورو هېوادونو فعالو مېرمنو ته هم ورکول کیږي.»

د دې اوو افغان مېرمنو هر څه وروسته له دې رپوټونو هېر کړای شول، مقتولین له خپل ګټلي ثواب سره په هسکه غاړه ګرځي، خواره خواري د وژل شوو مېرمنو نه پاتې اولادونو او د کورنۍ نورو غړو ته ورپه برخه دی.